مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نعمان دوست

۲۰۲۳/۰۹/۲۹

# د ښوونځی د درسي کتابونو ساتنه

زموږ د وطن کمبخته ماشومانو ته حتی درسي کتابونه هم په خپل وخت او پوره توګه نه رسیږي.

دا کیسه اوږده ده؛ په تېر نظام کې آن هغه وخت هم د کتابونو ویش په خپل وخت او سمه توګه نه کیده چې د معارف وزارت ګودامونه به له درسي کتابونو ډک ول. لکه د پوهني وزارت مربوطه مسوولینو چې له موږکانو سره دوستانه قراردادونه درلودل.

په هرصورت؛

د کتابونو د کمبود یوه ستونزه داسي هم څه نا څه هواریږي چې هره کورنۍ خپل ماشومان کتابونو ساتلو ته وهڅوي او ورته ووایي چې ستاسو کتابونو ته راتلونکي بې وسه زده کوونکي په تمه دي.

زه مي له خپلو ماشومانو مننه کوم چې دي کار ته توجه کوي. آن د کتابونو د ترلاسه کولو په لومړۍ ورځ لګیاوي او پوښونه ورکوي. آن هغو کتابونو ته هم پوښونه ورکوي، چې دوی بازار کې اخیستي وي.

د کتابونو ساتني فرهنګ دي عام شي. ګڼ داسي ماشومان شته چې د اخیستلو وس یي نه لري او د مکتب لخوا د کتابونو ورکړې ته په تمه وي. د کتابونو ساتنه یو مسوولیت او له بېوسه زده کوونکیو سره مرسته ده.



عکس: زما د ماشومانو یو څو کتابونه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ